# په ختيځه مديترانه کې د ګازو کړکېچ

**پوښتنه:**

د ۲۰۱۹م کال د اګست پر اتمه مصر عربي انټرنېټ پاڼه ليکي: «د ترکيې ولسمشر دوې ورځې وړاندې په ختيځ ه مديترانه کې د ګازو د پلټنې په اړه په خبرو کې وويل: زموږ پلټنې او موندنې په پراخه پيمانه روانې دي، موږ به د ګازو د ذخيرو موندنو ته دوام ورکړو، زموږ اوسني يا راتلونکي فعاليتونه هېڅوک نه شي درولی. د ترکيې دا هڅ ه د مصر، قبرس او د اروپايي اتحاديې بنديزونو پروړاندې يوه نوې ننګونه ده.» ايا د ګازو د ذخيرو پلټنه د دغو ځ لورو هيوادونو تر منځ د لانجې او شخړې په معنا ده؟ ايا د ختيځې مديترانې د ګازو ذخيرې دومره بډايه دي، چ ې آن د دې څلورو اړخونو تر منځ حالات له ناورين سره مخ کولی شي؟ الله سبحانه وتعالی دې اجر درکړي.

**ځواب:**

هو، د ګازو دا ذخيرې چې په منځني ختيځ کې پرتې دي، خورا پراخې او په لوړه پيمانه دي او په دې لانجه کې يوازې دا څلور هيوادونه (ترکيه، قبرس، اروپايي اتحاديه او مصر) ښکېل نه دي؛ بلکې امريکا، روسيه او د سپېڅل ي فلسطين غاصب يهودي دولت هم پکې ښکېل دي. نړيوال قدرتونه غواړي خپلو سياسي او اقتصادي موخو ته د رسېدو لپاره ګاز استثمار کړي او په خپله ګټه يې وکاروي. د موضوع ته د ښې روڼتيا په موخه لاندې وضاحت و رکوو:

**لومړی: په ختيځه مديترانه کې د ګازو موندل او د هغه ارزښت:**

**۱: د ختيځې مديترانې په سيمه کې د ګازو موندنه:**

د ګازو پلټنې په ۲۰۰۰م کال کې د بريتانوي ګاز له خوا چې د بريټش پيټروليم(British Petroleum) يوه څان ګه ده، د غزې تراډې د ساحل څخه د ۳٦ کيلو متره په واټن کې د غزې سمندري (Gaza Marine) سيمه کې پيل شوې. د دغې سيمې د ګازو د ذخيرو اندازه نږدې يو ټريليون مکعب فوټه اټکل شوې ده. په ۲۰۰۹م کال ک ې د تمارا (Tamara) ذخيره کشف شوه. د جيولوژيکي څېړنو له مخې دا ذخيره نږدې ۱۰ ټريليون مکعب فوټه ګاز لري. په همدې کال د قبرس د سهيل لوېديځ ساحل څخه د ۱۸۰ کيلو متره په واټن کې د اپروډايټ ذخيره وموندل شوه، چې د سمندر په تل کې ۱۷۰۰ متره لاندې پرته ده. دا ذخيره د قبضه شوي فلسطين څخه ۹۰ ک يلو متره لرې پرته ده. د اپروډايټ ذخيرې د طبيعي ګازو اندازه ۹ ټريليونه معکب فوټه اټکل شوې ده. په ۲۰۱۲ م کال کې د قبضه شوي فلسطين د شمالي ساحل څخه د ۱۳۵کيلو متره په واټن د ليواتين ذخيره وموندل شو ه، چې نږدې ۱۷ټريليون مکعب فوټه ګاز لري. دا ذخيره حايفه ښار ته نږدې ۱٦۰۰متره تر اوبو لاندې پرته ده.

په ۲۰۱۵م کال کې د ايني (Eni) په نامه يوې ايټالوی کمپنۍ د مصر سواحلو ته نږدې د ظهر په نامه د مديترا نې تر ټولو ستره د ګازو ذخيره کشف کړه. دا ذخيره د مصر له سعيد بندر څخه نږدې ۲۰۰ کيلو متره لرې پرته د

ه او د ۳۰ ټریلیون مکعب فوټه په اندازه گاز لري. د ایني د اټکل له مخې دوی به په ۲۰۱۹م کال کې د کاله ۲،
۵بیلیونه مکعب فوټه گاز استخراجوي. دا گاز د مصر ۴۰سلنه جوړوي. د ظهر تر موندنې وروسته ایټالوی ایني
کمپنۍ د همدې کال په پیل کې اعلان وکړ، چې له سینا ټاپو څخه د ۵۰ کیلو متره په واټن یې د نور په نامه ب
له د گاز ذخیره کشف کړه. دا ذخیره د مصر سواحلو ته نږدې په مدیترانه کې پرته ده. د امریکا متحده ایالاتو د ج
یولوژیکي څېړنو له مخې د ختیځې مدیترانې د سوریې، لبنان، یهودي دولت، مصر او قبرس سواحلو کې ۱۲۲ټر
یلیونه مکعب فوټه گاز شته، چې تراوسه کشف شوي نه دي او پر دې سربېره د ۱۰۷بیلیونه بېرله تېلو د شتون ا
ټکل یې هم کړی دی.
له دې څخه ښکاري، چې دا خورا بډایه سیمه ده.

**۲. په ختیځه مدیترانه کې د گازي سرچینو ارزښت:**

د دې سیمې ارزښت یوازې په دې کې نه دی چې گاز په کې کشف شوي، بلکې دا سیمه د خپل موقعیت له ک
بله هم د ډېر ارزښت وړ ده. منځنی ختیځ، هغه سیمه چې د نړۍ د تېلو ۴۷ سلنه او د گازو ۴۱ سلنه ذخیرې لر
ي. دا اهمیت د مدیترانې سیند له امله نور هم زیاتېږي، ځکه دا لار د سویز، باسفورس او جبل الطارق د تنگیو
له امله د نړیوالې سوداگرۍ ډېره مهمه لار ده او درې لویې وچې؛ اسیا، اروپا او افریقا سره نښلوي. نویو کشفیاتو
د ختیځې مدیترانې هیوادونو ته د هیلې یوه نوې ساه ورکړې؛ د تېلو او گازو نړیوالو کمپنیو د حرص سترگې ورته
نیولي. سیمه ایز هیوادونه بیا ټول په دې فکر کې دي، چې په څه ډول دغه سرچینې لاسته راوړي او د نړیوالو ځ
واکونو پاملرنه دې ته اوښتې، چې په څه ډول شخړې او لانجې رامنځته کړي، څو دغه سرچینې په خپل واک ک
ې راولي.

**دویم: هغه هېوادونه چې د ختیځې مدیترانې د گازو پر سر ښکر په ښکر دي:**

**۱:د مدیترانې پر څنډه پراته هېوادونه:**

**الف. ترکی قبرس – یونانی قبرس:** ترکی قبرس په دې باور دی، چې د دغې جزیرې سرچینې یوازې د همدغې
جزیرې د خلکو ملکیت دی او بل هېڅ هېواد یا ډله حق نه لري، چې گټه ترې واخلي. یوناني قبرس دا موضوع
صرف نظر کړه، ځانگړي اقتصادي ساحې یې وټاکلې او غوښتل یې په ۲۰۱۰م کال کې په یواړخیز ډول له دې
سرچینو څخه گټه واخلي، چې دغه کار ترکی قبرس غبرگون ښودلو ته اړ کړ. (ترکیې د ۲۰۱۱م کال د سپټمبر
پر ۱۵مه یوه هوکړه لاسلیک کړه، چې له مخې یې شمالي قبرس ته څېرمه ساحلي پولې وټاکلې...) (سرچینه: تر
کیه، ۸/۱۱/۲۰۱۸ ). د دغو کړنو په پایله کې د ترکي قبرس او یوناني قبرس تر منځ د وېشلو سیمو پر سر ناندر
ۍ رامنځته شوې. ( له دې امله د شمالي قبرس جمهوریت ادعا کوله، هغه سیمې چې د یوناني قبرس لخوا په ۲
۰۱۰م کال کې بېلې شوې وې، پر ټولو د ملکیت حق لري...) ( ترکي رسنی، ۱۱/۷/۲۰۱۹)

**ب. اروپايي اتحاديه:** په دې وروستيو کلونو کې د روسيې او اروپايي اتحاديې تر منځ ترينګلتياوې او همدا ډول پر روسيې د امريکا د بنديزونو له امله اروپايي اتحاديه اړه شوه، چې د خپلي اړتيا وړ انرژۍ د ساتلو لپاره نوې سر چينې او نوې لارې پيدا کړي. د ختيځې مديترانې ګاز پر روسيې د اروپايي اتحاديې تکيه نيمايي ته راټيټوي، په ځانګړې توګه د جنوبي اروپا د هيوادونو. البته اروپايي اتحاديه د خپلو ځينو غړو هېوادونو په تېره بيا د يوناني قبر س او يونان له لارې هڅه کوي، چې د نفتو او ګازو د پلټنې له لارې نوې سرچينې پيدا کړي.

**ج. ترکيه:** ترکيه د ملګرو ملتونو د سمندري قوانينو د کنوانسيون (UNCLOS) غړې هېواد نه دی. د دې سازما ن نه غړيتوب ترکيې ته دا ګټه کړې، چې د سمندري سيمو محدوديتونه پرې نشته او د يونان سره د اژه سمندر ګي پر سر په ځينو لانجمنو سيمو کې هم پلټنه کولی شي. ترکيه د يوناني قبرس له لوري د جوړ شوي ځانګړي ا قتصادي زون څخه ناخوښه ده، ځکه فکر کوي چې دغه خصوصي زون د ترکي قبرس پر ساحلي پولو تيری کړی دی. د همدې غوښتنې پر اساس ترکيه هغه خصوصي زون ناقانونه ګڼي، چې يوناني قبرس له مصر، لبنان او يه ودي دولت سره په ګډه جوړ کړی او غواړي په راتلونکي کې په سيمه کې د بهرنيو کمپنيو له لارې د ګازو په مون دنه او پلټنه کې برخه واخلي، چې دا کار د انقرې حقوق تر پښو لاندې کوي. اردوغان د عدالت او پرمختګ ګون د د اتلسمې کليزې په مناسبت په جوړه شوې غونډه کې خپلو پلويانو ته په وينا کې وويل: «موږ په ختيځه مديتر انه کې پراته يو، موږ د ترکي کښتيو له لارې د پلټنو عملياتو ته دوام ورکوو، چې د ترکيې د سمندري ځواکونو له لورې به ساتل کېږي.» (صوت الامارات، ۲۴/۸/۲۰۱۹).

**د. د فلسطين غاصب يهودي دولت:** په سيمه کې د ګازو موندنه له يهودي دولت سره مرسته کوي، چې د ګاز و په برخه کې يې پر مصر تکيه کمه شي او د خپلې انرژۍ د اړتيا وړ ډېره برخه خپله پوره کړي او پر ځان بسيا او خودکفا شي. د فلسطين په قبضه شوې ځمکه کې د ګازو د موندنې يوازېنۍ ګټه دا نه ده، بلکې يهودي دولت ته سياسي او امنيتي ګټې هم لري او له خپلو ځينو عربو ګاونډيو لکه مصر، لبنان، فلسطيني چارواکي او اردن سره د اړيکو د سمون لپاره د يوې غوره سياسي وسلې په توګه هم کار اخيستلی شي. (اسرايل له يونان، قبرس او ايټاليې سره هوکړې ته رسېدلي، چې د ٦،٨ بيليونه ډالرو په ارزښت به د ګازو يو پايپ لاين جوړوي او له اسرايي لوڅخه به دغو درېيو هېوادونو ته ګاز صادرېږي...) (الشرق الاوسط نيوز، ۲۵/۱۱/۲۰۱۸) اروپا دا هرڅه ځکه کو ي، چې د خپلې انرژۍ سرچينې ډېرې کړي.

**ه. مصر:** ګاز نه يوازې د مصري رژيم لپاره اقتصادي ارزښت لري، بلکې په کور دننه او نړيواله کچه د خپل حيثي ت د لوړولو لپاره د يوې غوره وسيلې په توګه کار ترې اخيستلی شي. د دغه کال په پيل کې مصر، يهودي دولت ، قبرس، يونان، ايټاليې، اردن او فلسطين د ختيځې مديترانې د ګازو ټولنې د جوړېدو خبر ورکړ. (په جنورۍ ک ې مصر، اسراييل، قبرس، يونان، ايټاليې، اردن او فلسطين په قاهره کې د ختيځې مديترانې د ګازو ټولنې د تا

سیس اعلان وکړ. د دغې ټولنې د تاسیس پر مهال یې دغه څلور هېوادونه ترکیه، لبنان، سوریه او ترکی قبرس ل ه دغې ټولنې څخه ایستلي دي او غړیتوب یې نه لري. البته دغه هېوادونه په ختیځه مدیترانه کې هم په گازو پ سې گرځي.) ( گلف انلاین. ۱۵/۱/۲۰۱۹)

بې اغېزې هېوادونه: دغه هېوادونه که څه هم له ختیځې مدیترانې سره پوله لري، خو کوم اغېز نه لري. (سوریه د خپل اوسني حالت له امله... لبنان، که څه هم له روسي، فرانسوي او ایټالوي کمپنیو سره یې تړونونه لاسلیک کړي دي، خو تر اوسه یې کارونه نه دي پیل کړي او ښایي د یهودي دولت د مداخلې له امله یې کارونه وځنډېږ ي... او په پای کې هم د فلسطین چارواکي.)

**۲-د مدیترانې له حدودو څخه بېل هېوادونه:**

الف. امریکا: د امریکا د خپل پراخ لید په ترڅ کې منځني ختیځ ته لومړیتوب ورکوي، چې د یهودي دولت ساتن ه او د انرژۍ لېږد ورته مهم دي. متحده ایالات په ختیځه مدیترانه کې د خپلو کمپنیو او لاسپوڅو له لارې اوس ه م حضور لري. اروپا ته د متحده ایالاتونو د گازو صادرات مخ پر پورته روان دي او دا هم ښایي د دغې سیمې د گا زو پر راتلونکي اغېز ولري.

**ب. روسیه:** که څه هم د ختیځې مدیترانې گاز د اروپا لپاره د روسیې د گازو بدیل نه شي کېدای او نه یې هم سیالي کولی شي، خو بیا هم روسیه په دې هڅه کې ده، چې د اروپا د گازو مارکیټ انحصار په خپل بشپړ واک کې وساتي، نو له همدې امله د گازو اړوند هره پروژه کې روسیه ونډه اخلي. روسیه اوسمهال د ختیځې مدیتران ې د گازو په پلټنو کې شریکه ده، له لبنان سره تخنیکي مرستې کوي، له یوناني قبرس او یونان سره مالي مرس تې کوي او له سوریې سره بیا د دوه اړخیزه تړون پر اساس نظامي مرستې کوي.

**درېیم: د اقتصادي او سیاسي ځواک لرونکو هېوادونو تر منځ کشمکش او ترینگلتیاوي:**

۱. د اروپایي اتحادیې لپاره؛ یونان، قبرس او یهودي دولت د ۲۰۱۸م کال د ډېسمبر پر ۲۰ مه نېټه اعلان وکړ، چې دوی د گازو د هغه پایپ لاین پر پروژه کار کولو ته تیار دي، چې له ختیځې مدیترانې څخه به اروپا ته طبیع ي گاز لېږدوي. البته له دې پروژې سره د امریکا ملاتړ هم شته. د ایسټ میډ نل لیکه (EastMed Pipeline) به له سمندر څخه د قبضه شوي فلسطین او قبرس گاز د یونان له لارې اروپا ته لېږدوي. داسې اټکل شوی چې د دغې نل لیکې له لارې به ۱۰ ټریلیونه مکعبه گاز یونان او ایټالیې ته ولېږدول شي. د اروپایي اتحادیې موخه دا ده چې د خپلې انرژۍ سرچینې ډېرې او مختلفې کړي او پر روسیې یې تکیه کمه شي. د ایسټ میډ پروژه به د ا روپا ۱۰-۱۵سلنې پورې د گازو اړتیاوې پوره کړي او روسیه به هم پر اروپا د گازو د پلور په بیو کې ښایي کمښت راولي. البته په دې وروستیو کلونو کې په پرله پسې ډول د روسیې د گازو بیې لوړې شوې او اروپایي اتحادیه به هڅه وکړي چې دا بیې بېرته راټیټې کړي.

۲. اروپايي او امريکايي اړخ: امريکا پر روسيې او ملګرو يې د نويو بنديزونو له لارې فشارونه راوړي، په ځانګړې ډو
ل جرمني، څو د (نارډ سټريم ۲ نل ليکې) د پروژې کارونه ودروي. متحده ايالات ادعا کوي، چې روسيه د دغې
پروژې په پلي کولو سره اروپا نوره هم تر خپل اغېز لاندې راولي او له ګازو څخه د سياسي فشار د يوې وسيلې په
توګه ګټه اخلي. له همدې امله متحده ايالات اوس خورا ټينګه هڅه کوي، چې د اروپايي اتحاديې غړي هېوادون
ه د روسيې پر ځای له متحده ايالاتونو څخه مايع طبيعي ګاز (LNG) وپيري. البته په دې سره بازار ډېر رقابتي
کېږي او ښکاره خبره ده چې د نارډ سټريم ۲ پروژه ترې اغېزمنه کېږي. د دغې پروژې له لارې به دوه د ګازو نل
ليکې جوړېدلې او د بالتيک سمندر له لارې به يې جرمني ته په کال کې ۵۵ بيليونه مکعبه متره ګاز لېږدول، خ
و يو شمېر هيوادونو لکه، اوکراين او متحده ايالات د دعې پروژې سره مخالفت ونښود. (سپوتنيک، ۱/۴/۲۰۱۹).
۳. د متحده ايالاتو او روسيې تر منځ د طبيعي ګازو د لېږد پر سر سيالۍ او لانجې زياتې شوې، ځکه اروپايي ات
حاديه د ۲۸ غړو هېوادونو او ۵۱۲ ميليونه نفوس په لرلو سره د انرژۍ په ځانګړې توګه د ګاز صادروونکو لپاره يو
مهم مارکېټ او بازار دی. پر همدې بنسټ، روسيه له ډېر پخوا څخه په اروپايي مارکېټ کې دلچسپي لري او ارو
پايي مارکېټ ته د ګاز رسولو يوازنۍ سرچينه همدا روسيه وه، خو اوس امريکا راوړاندې شوې او اروپا ته د ګازو په
صادرولو سره يې روسيه ننګولې، البته متحده ايالات يې په خوندي او اسانه طريقې سره لېږدوي.
له بله اړخه د ګازو مايع کول او بيا لېږدول د نل ليکې په پرتله ګران بيه پرېوزي. خو که چېرې نرخونه د سيالۍ
پر اساس شي، بيا نو په اروپايي مارکېټ کې خورا مهم رول لوبولی شي؛ چې په دغه کار سره متحده ايالات روس
يې ته لوی سرخوږی جوړوي او همدا د متحده ايالاتو پلان دی. د ۲۰۱۸م کال په اکټوبر کې د شوې سرشمېرن
ې له مخې د متحده ايالاتو د توليد شوي ګاز ۲۴ سلنه اروپايي اتحاديې ته تللی؛ البته په ۲۰۱۷م کال کې دغه
اندازه ۱۰ سلنه وه، چې د متحده ايالاتو لومړۍ هڅه بلل کېده. د ۲۰۱۹م کال په لومړيو مياشتو کې له متحده
ايالاتو څخه اروپا ته د ګازو واردول ۱۳ سلنه وو، چې په دې سره يې د لېږدوونکو په لړ کې درېيم ځای خپل کړ.
دا هڅه په امريکا کې د شېل ځاګانو څخه د تېلو د توليد د زياتوالې پر اساس وه.
۴. په لنډ ډول اروپا چې د ګازو په برخه کې پر روسيې متکي وه، اوس اړ ده چې د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره
نورې لارې چارې ولټوي. له همدې امله اروپايي اتحاديه په ايسټ ميډ پروژه کې دلچسپي ښيي، څو د امريکا او
روسيې تر منځ د بنديزونو له ورځني کشمکش څخه ځان وژغوري. په ورته وخت کې متحده ايالات غواړي پر ارو
پايي مارکېټ خپله ولکه نوره هم ټينګه کړي، له همدې امله له اروپايي غړيو هېوادونو څخه غواړي، چې د روسي
ې پر ځای له متحده ايالاتو څخه مايع طبيعي ګاز وپيري. متحده ايالات په ورته وخت کې د نارډ سټريم۲ پروژې
سخت مخالفت کوي، چې د بالتيک سمندر له لارې روسيه او اروپا سره نښلوي.

**۵. منځنی ختیځ:** چې یوه بشپړه اسلامي سیمه ده، الله سبحانه و تعالی پرې بې شمېره شتمني لورولې لکه: نفت، ګاز، منرالونه او داسې نور. خو دا هرڅه کفري او اشغالګرو ځواکونو له یهودي غاصب دولت سره په ګډه لو ټ کړي او لا یې هم په خپله ګټه کاروي. خپلې فابریکې او صنعتي سیمې یې پرې ابادې کړې دي. یوه کوچنۍ برخه د سیمې ګوډاګیو مشرانو ته رسېږي، په داسې حال کې چې دا د عامو مسلمانانو شتمني ده او همدوی ی ې څښتنان دي، نه دا غله. دا د امت مسوولیت دی، چې هغه واکمن کسان له واک څخه وشړي، چې زموږ شتم نۍ یې د یرغلګرو کفارو په واک کې ورکړې دي. امت د دغو دومره بې حسابه شتمنیو په شتون کې بیا هم خوار او ذلیل دي. د دې مثال هغه تږی اوښ دی، چې په دښته کې روان وي او اوبه یې پر شا پرتې وي، خو د څښلو توان یې نه لري.

د جابرو چارواکو پر وړاندې چوپ پاتې کېدل او د الله سبحانه و تعالی او د پېغمبر صلی الله علیه وسلم د رضا ل پاره د بدلون په موخه کار نه کول، موږ د دغو ظالمانو له ظلم څخه نه شي ژغورلی، نو مسلمان باید د ظالم او ب ې عدالتیو پر وړاندې رپاڅي.

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿وَاتَّقُواْ فِتْنَةً لاَّ تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمْ خَآصَّةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾**

[الانفال: ۲۵]

***ژباړه:*** *له هغې فتنې څخه ځان وژغورئ، چې ناوړه اغېز به یې یوازې تر هغو خلکو پورې محدود پاتې نه شي، چ ې په تاسو کې یې ګناه کړې وي. پوه شئ، چې الله سبحانه وتعالی سخت سزا ورکوونکی دی.*

**﴿إِنَّ فِي هَذَا لَبَلاغًا لِّقَوْمٍ عَابِدِينَ﴾**

[الانبیاء: ۱۰۶]

***ژباړه:*** *په دې کې د عبادت کوونکو لپاره غټ خبر دی.*

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د محرم ۲مه**

**۲۰۱۹م کال، د سپټمبر ۱**